# د رحمان بابا په کلام د فارسی لساني اثرات

## (The lingual impacts of Persian language on the poetic works of Rehman Baba)

1. Mohammad Farooq Anjum, AP, Department of Pakistani languages, NUML, Islamabad


## ABSTRACT

Persian and Pashto are aryan (Iranian) languages belonging to Indo-European language family, both languages are similar to each other in a number of ways. Persian language became the sole official language under the Mughal emperor's .During the power of Mughal in the subcontinent the language, culture, literature and education was influenced by Persian language. Many languages like Urdu, Punjabi, Hindi and Pashto etc contain a great number of Persian words. Persian language has had a major linguistic and literary influence on Pashto language. Like other poets Rehman has also used countless Persian words in his poetry .The aim of this article is to highlight the lingual impacts of Persian language on the poetic works of Rehman Baba.


لکه د نورو ژبو پښتو هم په هر دور کښې د هر هغې ژبې نه اثر اخستے دے د کومو سره چې ئې واسطه راغلي ده۔ خو د لسانیاتو مطالعې نه مونږ ته دا خبره څرګندیږي چې د ژبو تر مینځه دا ورکړه راکړه یو اړخیز نه وي او یوه ژبه چې هر کله بلې ژبې نه فیض یابه کیږي نو د هغې په بدله کښې هغه هم د خپلو اثراتو نه خالي نه پریږدي او دغه شان د بدلون دا عمل روان وي خو د انجذاب او اختلاط په دې عمل کښې هم پښتو ژبې خپل ځانګړې حیثیت او انفرادیت په ځائې ساتلو کښې کامیابه پاتې شوې ده۔ پښتو ژبې چې د کومو خارجي ژبو اثرات په لویه پیمانه قبول کړي دي په هغې کښې فارسي ژبه په سر کښې ده



Pukhtunkhwa Journal

پښتو او فارسۍ دواړه آريائي ژبې دي او د هند ايراني خاندان سره تړون لري ځکه چې سرچشمه ئې يوه ده۔ نو په دې اساس مونږ په جار وئيلے شو چې دواړه ژبې به لازم په يو بل اثر لري۔ د برصغير د مسلمانانو او په خاص توګه د پښتنو د پاره فارسۍ ژبه تل د قدر وړ پاتې شوې ده۔ چونکه فارسي يو علمي او ادبي ژبه وه۔ دې سره سره زياتره مذهبي کتابونه هم په دې ژبه کښې ليک دي او زمونږ په ديني مدرسو کښې د درس و تدريس کار به هم پخوا په فارسۍ ژبه کښې تر سره کيدو۔ په دې وجه دا د يو مذهبي ژبې په توګه هم تر څه حده پکار راوستے شوه۔

فارسي ژبه د پښتو په ګاونډ وه دا هم يو وجه کيدے شي چې پښتو ژبې د دې د اثر نه ځان بچ وَ نه ساتلے شو، ځکه چې دا هم يوه پخه خبره ده چې په يوې ژبې د خوا ؤ شا د ژبو څه نه څه اثر لازم غورزيږي، بله دا چې فارسۍ ژبې د خپل لوئي ادبي او علمي حيثيت له کبله په پښتو باندې ژور اثر لرلو۔ د پښتو په معلومو شاعرانو کښې وړومبے شاعر امير کروړ چې په دويمه صدۍ کښې ژوندے ؤ ، د هغه تر لاسه شوي شعرونه په سوچه پښتو کښې دي او د بلې ژبې يو ټکے هم پکښې نشته د هغې وجه دا ده چې دغه وخت لا په پښتو ژبه د فارسۍ اثر نه ؤ زمونږ د اولني دور په شاعرانو دا د نشت برابر ښکاري ـ خو بيا د وخت د تيريدو سره سره دې اثر په مختلف رنګونو کښې ځان ښکاره کړے دے او د پښتنو شاعرانو د فارسۍ ژبې لغات خپل کړي او کلام کښې ځائې کړي دي۔ د فارسۍ ژبې د استاذانو ، شاعرانو پيروي کولو کښې ئې هم څه بد نه دي ګڼلي او دغه شان د فارسۍ ژبې نه ئې علمونه پښتو ته راوړل۔ د دې پيروۍ مختلف اسباب کيدے شي لکه د استاذانو شاعرانو د فن اعتراف ، هغوئ سره د عقيدت اظهار، د فارسۍ شاعرانو د عظمت دليل او د پښتو ژبې د خدمت په توګه دا د نوو علومو سره اشنا کول او فراخول۔

پښتو ادب سره د فارسۍ ډيرې نزدې اړيکې پاتې شوي دي او پښتو ادب ځيني معنوي ارزښتونه د فارسۍ ادب نه خپل کړي دي۔ د مثال په توګه که مونږ وګورو نو چې شيخ اسعد سوري د خپل دوست امير محمد سوري په مرګ کومه قصيده وئيلي ده هغه د

پښتو خپلو اوزانو نه لرې ده او لکه د فارسي ادب د اوږدو قصيدو په طرز ده۔ په دې قصيده کښې د پښتو درانۀ ، نادر او پخواني لغات په نظر راځي خو ورسره ورسره د فارسي الفاظو ګډون هم ښکاري۔ د دې نه دا اندازه لګولے شي چې دغه وخت پښتو په سوچه او خالص حالت کښې نه وه او د نورو ژبو د لغاتو او په خاص توګه د فارسی اثر ئې قبول کړے وو۔ ښاغلے عبدالحئ حبيبي د اسعد سوري د دغه قصيدې په بابله وائي:

> " د پښتو د قدماوو په ادب کښې شيخ اسعد سوري لومړے سړے موږ ته معلوم دے چې د دۀ شعر د پارسي معاصرو شاعرانو له آثارو سره نزديوالے او ادبي رابطه او قرابت لري دا خو ښکاره ده چې د ۴۰۰ هجرى په حدود کښې د پارسي ادب د ساماني شاهانو په دربارو کښې په ښه ډول روزلے شوے وو او بيا د غزنويانو په دربار کښې چې د پارسي شاعرانو مجمع او تولټون وو هم لا پسي روزل کيده۔ په دې وختو کښې سلطان محمود په غزني کښې سلطنت کاوه نو ډير نوموړي پارسي شاعران په غزني کې راټول شوي ؤ او دا د قصيده سرايی د عروج وخت وو".(۱)

د پښتو ادب په ړومبی دوره کښې ډيرو شاعرانو په خپلو ليکونو کښې د فارسی ژبې د لغاتو نه لاس امداد اخستے دے او د دوئ په فن پارو کښې د فارسی ژبې اميزش شته۔ د وړومبنی دورې نه پس که مونږ د پښتو ادب د دويمې دورې ذکر کوؤ نو د دې دور ليکوال هم د فارسی ژبې د اثر د لاندې ښکاري۔ بايزيد خپل کتاب صراط التوحيد په پارسی او عربی ژبو ليکلے دے يعني نيمائي مسائل ئې په فارسی او نيمائي مسائل ئې په عربی کښې بيان کړي دي۔ دغه شان بايزيد خپل مهم کتاب خيرالبيان په څلورو ژبو کښې ليکلے دے په هغې کښې يوه فارسي هم ده۔ د بايزيد انصاري سره سره د هغه مريدانو د فارسی ژبې لغات او تراکيب ښه په خوند خوند په نظم او نثر کښې پکار راوستي دي۔

د روښانيانو نه پس د خوشحال بابا زرين دور پيل کيږي۔ خوشحال بابا په هغه دور کښې ژوند کولو چې پښتو د فارسی شاعرۍ رنګ اخستے ؤ او په پښتو ادب د فارسی د ادب ډير زيات اثر پريوتے ؤ لکه د زمانې د دود دستور او د حالاتو د تقاضي تر مخه خوشحال بابا هم د فارسی ژبې او شاعرۍ نه متاثره ليدے شي او د اثارو نه ئې دا

ځرګندیږي چې د فارسۍ علمي مخزن نه ئې په غوره توګه استفاده کړې وه۔ ښاغلے سید رسول رسا د " ارمغان خوشحال" په مقدمه کښې د فارسۍ ژبې د اثر وجه څه دا رنګ ښائي۔ لیکي چې:

"خوشحال خان ختک په زمانه کښې فارسي بادشاهي ژبه وه یعني نه صرف د مغلو د دربار او حکومت ژبه وه بلکه د علم او شعر و شاعرۍ ژبه هم وه۔(۲)

خوشحال بابا د فارسۍ ژبې په وینا او لیك بې کچه قدرت لرلو هم له دې کبله که یو خوا هغه په فارسۍ ژبه کښې لیک کړې دے نو په بل اړخ ئې د فارسۍ تورې هم ځائې په ځائې په پښتو شعرونو کښې راوړې دي۔ د خوشحال بابا او د ده د مکتب سره د تړلو شاعرانو داسې بې دریغه کلام مونږ له په لاس راځي چې په هغې کښې د فارسۍ د لغاتو ګڼون موجود دے۔

د رحمان اور خوشحال بابا زمانه یو بل ته نژدې ده۔ په دغه دور کښې هم فارسي دفتري او درباري ژبه وه او ډیر مذهبي کتابونه هم په فارسۍ کښې وو هم د دغې کتابونو د لوستو او د دیني علم د زده کړې په خاطر به شاعرانو هم که یوه مذهبي تقاضا پوره کوله نو ورسره ورسره به ئې په فارسۍ ژبه هم دسترس تر لاسه شو او بیا هم دغه تورې به په امروزه ژوند کښې د خبرو اترو سره سره په خپل لیک هم پکار راوستل۔ او دغه شان د فارسۍ د لویو لویو عالمانو او شاعرانو کتابونه به ئې د وخت د ضرورت او رواج تر مخه په خوند خوند لوستل۔ زلمے هیواد مل د رحمان بابا د زمانې خصوصیات مونږ ته څه دا رنګه راښائي:

" یوولسمه هجري پیړۍ د پښتو ادبیاتو د رشد او پرمختیا له پاره یوه مناسبه پیړۍ وه د پښتو ډیر لوئې شاعران په دې پیړۍ کښې راوزیږیدل ، لوئې شول او په پښتو آثار ئې ولیکل او اشعار ئې ووئیل۔ په دغه پیړۍ کښې د پارسۍ، عربۍ، او ځینو هندي ژبو له ادبیاتو سره د پښتو او پښتنو شاعرانو روابط په لوړه سطحه کښې موجود شوي وو۔ د پښتو په فرهنګي چاپیریال کې هم ځینې داسې شاعران راپیدا شوي وو چې د شعري عالمي استعدادونو تر څنګه یې پراخه مطالعه هم درلوده۔ پارسي، عربي، او ځینې هندي

ژبې یې هم زده وې. د دغو ژبو په خاص ډول د پارسۍ آثارو مطالعه زمونږ په فرهنګي کړيو کې دود وه او د پارسۍ د لویو شاعرانو لکه، فردوسي، سنايي، نظامي، مولانا، امیرخسرو، سعدي، حافظ او نورو د آثارو مطالعې د پښتو شاعرانو تر منځ رواج درلود".(۳)

د رحمان بابا په زمانه کښې به شاعرانو د فارسۍ د شاعرانو کلام ځانته د نمونې په توګه ګرځوۀ او د دې نه د ګټې پورته کولو سره سره به د دې په خوارۍ نه مريدل او خپل منزل مقصود بې ئې ګڼلو او دا هڅه به ئې کوله چې خپل کلام د فارسۍ شاعرۍ سره د مقابلې جوګه کړي خو رحمان بابا داسې سپيځلې او شيرين کلام وړاندې کړو چې پښتو شعر ئې د فارسۍ نه هم مخ په بره بوتلو او د شيرينۍ او لذت نه ئې ډک کړو. پُردل خټک په خپله مقاله " عالمګير رحمان" کښې سره د شعرونو د دې وضاحت څه دا ډول کوي:

" د رحمان بابا په ورځو کښې د پښتونخوا په شاعرانو د فارسۍ ډير غرق اثر وو. د دې ځاې خلقو به د سعدي، حافظ، صائب، بيدل ديوانونه ډير په شوق لوستل او دا ئې خيال وو چې د فارسۍ کلام په خوږلښت کښې خپل ثاني نه لري خو کله چې رحمان په پښتو ژبه کښې داسې خوږ او زړۀ ته پريوتونکے کلام وړاندې کړو نو مصري خان ګګياني د دې مننه داسې اوکړه :

شعر د فارسۍ وينم شيرين لکه شکره
شعر د پښتو کړ تر فارسۍ حميد رحمان لذيذ

د رحمان بابا په دور کښې به شاعرانو د خپل کلام د خوږلښت مقابله د فارسۍ سره کوله لکه خوشحال بابا وئيلي دي :

چې خوشحال خټک ئې وائي په پښتو ژبه خبرې
په فارسۍ ژبه به نه وي که پوهيږې سخن هسې

او حميد بابا وائي:

فارسي وانو د حيرت ګوتې په خولۀ کړې

چې حمید سخن سازي کا په پښتو کښې

عبدالرحمان بابا د خپل شعر د خوند او خوبۍ مقابله د فارسۍ سره ځکه نه ده کړې چې دۀ ته د خپلې ژبې دا سپېځلے کلام د هر څه نه لوړ او اوچت معلومېدو۔ دۀ خو خپل شعر تهدر او ګوهر وئیلې دې لکه چې وائي :

در ګوهر په تله نه دي چا تللي

د رحمان شعر ګوهر دے څه ئې تولې(۴)

که د دغه وخت پښتنو شاعرانو د فارسۍ د شاعرانو کلام لوستلو نو ښکاره خبره ده چې د هغوئ د ژبې او افکارو نه به هم ارو مرو متاثره کېدل۔ پروفیسر داور خان داؤد د فارسۍ ژبې د اثر په بابله وائي:

" د فارسۍ ژبې اثر په بعضې شاعرانو ډېر ؤ، په ځنو کم شوے دے۔--------- لکه څنګه چې فارسۍ په پښتو اثر وکړو دغسې ئې زمونږ په اولسې ژوند او کلیواله ژبه هم اثر پرېښودو او نن هم مونږ د فارسۍ ډېر الفاظ ډېر په آزادۍ او بې باکۍ سره په پښتو کښې استعمالوو۔ سره د دې چې په پښتو کښې د دغې اکثرو الفاظو د پاره د پښتو خپل خوندور ټکي شته"۔(۵)

رحمان بابا هم د هغه زماني د روایاتو تر مخه تلے دے او څنګه چې د بابا کلام د هر ډول ملغلرو او ښکلا نه ډک دے نو دې سره سره د رحمان بابا د شاعرۍ يو ځالنده خبره دا هم ده چې هغه په خپل کلام کښې د فارسۍ ژبې توري او ترکيبونه په ګڼ شمیر کښې راوړي دي خو غټ خصوصیت ئې دا دے چې لوستونکي د دې نه مزه او خوند اخلي او بې ضرورته استعمال ئې نه محسوسوي۔ له دې کبله د بابا د کلام د جائزې نه دا ثابتیږي چې دے د فارسۍ ژبې لوئي عالم ؤ ځکه خو ئې په ډېر ښکلي انداز د فارسۍ لغات په شعرونو کښې داسې ورتومبلي دي چې د پښتو د کلماتو سره ئې جوړ راغلے دے او په لوستونکي بوج نه جوړیږي۔ ځکه خو سید رسول رسا وائي چې:

" د هغه په شاعرۍ کښې د الفاظو تولنه او استعمال د ملغلرو په تار کښې پیئل دي او د دې نه چې کوم هار جوړ شي د هغې ښائست او جمال د یو افاقي صداقت عکاسي کوي"- (۶)

دلته د رحمان بابا د دیوان نه څه شعرونه د نمونې په توګه وړاندې کوو چې دا شان په کلام کښې ئې د فارسي ژبې د لغاتو آمیزش ښکاره کړے شي:

ګوره هسې کردګار دے رب ځما
چې صاحب د کل اختیار دے رب ځما
حاجت نه لري د هیچا وَ یارۍ ته
له هغو سره چې یار دے رب ځما

---

کل جهان د محمد په روي پیدا شه
محمد دے د تمام جهان ابا
محمد د بې چاره ؤ چاره ګر دے
محمد دے هر درمند له دوا

---

چې ایام پرِ د کفن د غسل ورشي
بې پردې شي پرده دار د دې دنیا

---

له هغه به زیات نادان په جهان نه وي
هر چې غواړي فراغت په دا دنیا

---

که دانا یې وپوهیږه
په روا په ناروا

---

د خزان پاڼي چې بيلې شي له بناخَ
په حکمت به يې پيوند نه کا حکما
بل بلبل به د ګل نوم اخستے نه وه
که خبر وې چې ګل نه دې خار دې دا
نه به ما غوندې شيدا وې په جهان کښې
نه به تا غوندې دلبر شي بل پيدا
په وفا د دلبرانوغلط مه شه
دغه قوم دے بې وفا و کبريا
بې د يار له ښه ديدن دې خداې نه کا
د رحمان په زړه کښې بله تمنا

-------------------------------------

هسې مست يم ستا د شونډو په شراب
چې به وې بل ادا هسې مست خراب
حجاب واخله مخ کړه تور د هغو خلقو
چې تحسين کا ستا په دور د آفتاب
ماه خورشيد دې په ښائيست پورې شرميږي
ځکه مخ فنا کوي تر کوه قاب
ورقونه لتوم د هر مکتوب
په کښې غواړم خال و خط د خپل محبوب

-------------------------------------

نه يې هيڅرې تغير و نه تبديل وي
که تمام جهان پرې وائي ملامت
د عاشق خاطر له غيره پاکيزه دي
د درياب په مخ کښې نه وي نجاست

-------------------------------------

که روا کا خون خوردن د عاشقانو
څوک وتې شي د خوبانو له صلاحَ

-----------------------------------

چې بوسه له یاره غواړي بې ادبه
خدای د نه کاندي رحمان دا هسې شوخ

-----------------------------------

رحمان بې د یار له ذکره
نه زده بل گفت و شنود

-----------------------------------

آشنائي به ما په کوم قوت کوله
که خبر وی ستا د هجر له تاراجَ
که په سلو کښې یو خواست د چا قبلیږي
خدای دې هیڅوک رنځور نه کا بې علاجَ

-----------------------------------

ستا د مخ د آئینې له برکت ځما جانه
همیشه لکه طوطي هسې گویان دے ځما روح

-----------------------------------

نور وگړي واړه همکي د دنیا کار کا
زه همیشه غرق په انتظار یم ستا د مخ

-----------------------------------

ستمگار چې ستم کاندي بهانه کا
ته په ما باندې کوې ستم په څه

-----------------------------------

زه د ستا په غم کښې شمع غُندې ژاړم
ته ځما په غم کښې صبح غُندې خاندې

-----------------------------------

بې د ستا د عشق د شهیدانو له خاک دانه
کله زرغونیږي سره لاله له هره گرده

-----------------------------------------

د عشق درد واړه عاشق لره راحت دے
د دي هسي رنځ دوا څه پکار نه ده

-----------------------------------------

سخت ساعت د بیلتانه به مي هیر نه شي
که راډکه شي د تو لحد ګور هندَ

-----------------------------------------

چي مي یار ولید په سیمه د اغیار ګډ
له غیرته مي لیمه شو په خونبار ګډ
زړه مي بي له خپل نګاره آرام نه کا
که هر څو ئي کړم په نقش په نګار ګډ

-----------------------------------------

غم خوري دا هسي چړې وي غم خوړې
چي به ما دلته کښي ناست لرې ته دور

-----------------------------------------

د رحمان په عاشقۍ به آفرین کړې
که لړ مخ په آئینه کړې ځان وګورې

-----------------------------------------

زه چي ستا له غمه ژاړم آه فریاد کړم
د رقیب کره هم ډول وي هم سندرې

-----------------------------------------

## ترکیبونه

شاعرانه ترکیبونه په کلام کښي معنویت پیدا کوي ۔ د شعر معنٰي او مفهوم ته وسعت بخښي۔ شاعر د خپلي ژبي دوه لفظونه هم یو ځائے کړي او یو نوے ترکیب ساز کړي او د نورو ژبو لفظونه هم په مرکب شکل کښي استعمالوي۔ پښتو کښي د فارسی د لفظونو استعمال په شاعرئ کښي ډیر دے۔ په خاص طور د رحمان بابا په کلام کښي د فارسی

لفظي ذخيره د مفرد لفظونو په شکل کښې هم ده او د مرکب لفظونو په صورت کښې هم ډیره ده۔ د رحمان بابا شعري ترکيبونه د مرکب لفظونو په شکل کښې په شعر کښې ډیره ژورتيا او د مفهوم وسعت پيدا کوي۔ هغه دا ترکيبونه داسې په برجسته روانه او خوږه لهجه کښې استعمالوي چې هدو د بلې ژبې ترکيبونه نه محسوسيږي۔ د رحمان بابا د کلام ژبه په دې ترکيبونو د عامې ژبې د درجې نه اوچته شوې او د ډيرې وجداني ژبې تر مرتبې رسيدلې ده۔ دې ترکيبونو د رحمان بابا د کلام ژبې ته لساني او ادبي عظمت بخښلے دے۔

## د رحمان بابا په شاعرۍ کښې د فارسۍ تراکيب

دارنګه شعرونه د رحمان بابا په ديوان کښې بلها دي خو د نمونې په توګه يو څو شعرونه دلته وړاندے کوؤ۔

ا

وارہ ډکي خولې د پيو هلکان دي

کارديده و پخته کار د دې دنيا

د طفلانو په خير واړه خاکبازي کړي

هر چې کاندي کاروبار د دې دنيا

-----------------------------------

زه رحمان حلقه بګوش د هر عالم يم

که اعلې دې که اوسط دې که ادنا

-----------------------------------

آفرين د عاشقانو په همت

چې په عشق کښې يک انداز وي يک جهت

-----------------------------------

په ثنا د دل پسندو دلرباؤ

دل پسند و دل ربا دے دا حديث

-----------------------------------

رنګ ریزان دې اول خپله رڼیره رنګ کا
بیا هاله دې و رحمان ته وائي پند

-----------------------------------

هم په دا چې نه له ځایَ چرته خوځم
نه هیڅ یوه مخلوق نه یم منت بار

-----------------------------------

بالادست به شي هاله په نورو وونو
که تعلیم د زیردستیَ واخلي له تاکَ
نه چه ژغوري سر و مال په عاشقیَ کښې
عاشقي دا هسې چرې ده کاواکه

-----------------------------------

خرقه پوشو په خرقه کښې دي موندلي
هاغه حظ چه په دنیا کښې دنیا دار که

-----------------------------------

زۀ رحمان د یار بنده و خدمتګار یم
چه بنده د خدمتګار وي څه به خوب که

-----------------------------------

چه قبول شي پردرګاه د مهرویانو
د هغه په خیر به نه وي بختور څوک

-----------------------------------

چه عنقا شو اهل دل په دا دنیا کښې
ترو به څه وائي و چا و ته احوال څوک
سرخروي د هر سرې په جګر خون ده
نه هغه چه په سر واچول سور شال څوک

-----------------------------------

هغه وخت چه م د صبر و سکون ؤ

هیڅ رانکړه مهوشانو ویریا بوئ

-------------------------------------

که د دوني په خیر ګل او میوه غواړي
ځان په نمر کړه سائبان د هر خاکسار شه

-------------------------------------

که دِ ویره شي له خپلي درماندګۍ
د درماندو دستګیري کړه خبردار شه

-------------------------------------

زورآور مدام غالب وي په کمزوري
زه له نوره غمه خلاص یم ستا په غم کښې

**سابقې لا حقي:**

د نورو ګنو ژبو په شان پښتو کښې هم د سابقې او لاحقې د استعمال په ذریعه د نوو لفظونو تشکیل کولے شي۔ سابقې او لاحقې سره یو نوے مرکب لفظ وجود اومومي چې معنٰي ئې هم نوې وي۔ د پښتو خپلو لفظونو سره خپلې سابقې او لاحقې هم استعمالولے شي خو د دې مثالونه لږ دي لکه د بد سابقه: بدبویه او بدخویه وغیره او لاحقې لکه غم-غمژن، تور- تور بخښن، سیمه- سیمه ایز وغیره۔ البته د فارسی او عربی لفظونو سره د فارسی او عربی سابقې او لاحقې زیاتي استعمالولے شي۔ چې مثالونه ئې د رحمان بابا په کلام کښې بې شماره دي۔ پښتو او فارسي خویندې ژبې دي د فارسی ګڼ شمیر لفظونه پښتو ته راننوتي دي۔ پدې کښې مفرد لفظونه هم دي او د سابقو لاحقو په شکل کښې مرکب لفظونه هم دي۔ د رحمان بابا په کلام کښې نه یواځې د فارسی مفرد لفظونه په ګڼ شمیر کښې موجود دي بلکه د دې موجود لفظونو سره د فارسی سابقې او لاحقې هم استعمال شوي دي۔ سابقې او لاحقې د قدر وړ اهمیت لري۔ ډاکټر محمد آفتاب احمد ثاقب د سابقو او لاحقو د اهمیت او د دې د طریقې په بابله لیکي:

" زبان کی وسعت میں سابقوں اور لاحقوں کی بہت اہمیت ہے ان کی وجہ سے بے شمار نئے الفاظ بن جاتے ہیں اور الفاظ ومعانی میں تبدیلی آجاتی ہے ۔ اردو میں ہندی، فارسی ، اور عربی کے بے شمار سابقے اور لاحقے مستعمل ہیں ۔۔سابقے اور لاحقے کا استعمال اسی وقت درست ہوگا جب ہم لفظ سے سابقہ یا لاحقہ الگ کریں تو اصل لفظ کے معنی برقرار رہیں۔ اگر وہ بے معنی ہوگیا تو لاحقہ یا سابقہ درست نہ ہوگا مثلاً ہم "خود " سے "خودی" یا "بے" سے "بیل " وغیرہ نہیں بنا سکتے کیونکہ خود اور بے ہٹانے کے بعد باقی "ی" اور "ل" بچتا ہے جس کے کوئی معنی نہیں۔ (۷)۔ "

د رحمان بابا کلام د اوچت خیال ، شیرینۍ او د سادګۍ سره سره په لساني علومو هم برابر دے او د صرف و نحو د قواعدو پکښې پوره پوره خیال ساتلے شوے دے او دا د رحمان بابا په ژبه او بیا د شعر په فن باندې د مهارت دلالت کوي۔ که مونږ د بابا په کلام کښې د لاحقو او سابقو لټون کوؤ نو بې شمیره داسې شعرونه په لاس راځي چې هغه مونږ د سابقو او لاحقو د نمونې په توګه وړاندې کولے شو۔ خود مثال د پاره یو څو شعرونه دلته راوړو۔

**د سابقو مثالونه**

همیشه به بې وقوف او بې شعور وي
چې مخمور وي په خمار د دې دنیا

---

دا زه خپله تسلي کړم یار ئې بولم
څه یاري ده د ناتوان او د توانا

---

چې آغاز مې کړ په مدحَ د خوبانو
څکه ګنج بې بها دے دا حدیث

---

طبیبان وائي چې صبر دې دارو دي

خداي ځمونږ فرقه پيدا کړه ناصبوره

-------------------------------------

محمد د بې چاره ؤ چاره گر دے
محمد دے هر درمند لره دوا

-------------------------------------

چې ايام پرِ د کفن د غسل ورشي
بې پردې شي پرده دار د دې دنيا

-------------------------------------

که دانا يې وپوهيږه
په روا په ناروا

-------------------------------------

**د لاحقو مثالونه**

لکه سحر چې برياي کا
سحر کر و جادوگر

-------------------------------------

کيمياگر که د کيميا په طلب گرځي
همدي د عالمانو ده کيميا

-------------------------------------

په تخته باندې بيرون شي له حجابه
شرمناک وشرمسار د دې دنيا
چې ايام پرې د کفن د غسل ورشي
بې پردې شي پرده دار د دې دنيا

-------------------------------------

يا تنور دے يا دکان د آهن گرو
چې په عشق کښې تصور کړم خپل قلوب

------------------------------------

که پیدا که پوشیده دي که اوسط دي
په همه ؤ وقوفدار دے رب زما

------------------------------------

محمدؐ د بې چاره و چاره گر دے
محمدؐ دے هر دردمند لره دوا

------------------------------------

وفا دار لره وفا شوه
جفا کار لره جفا

## حروف عطف

د حروف عطف په بابله مولوي عبدالحق لیکي:

> “ حروف عطف وہ ہیں جو دو لفظوں یا جملوں کے درمیان آتے ہیں اور دونوں کو ملانے کا کام دیتے ہیں ۔ جیسے ، جوان اور بوڑھے سب تھے۔ ہرکارہ آیا اور خط دے کر چلا گیا۔ میں تو آگیا مگر وہ نہیں آیا ۔پہلی مثال میں "اور "نے دو لفظوں جوان اور بوڑھے کے ملانے کا کام دیا ہے دوسری مثال میں ہرکارہ آیا اور خط دے کر چلا گیا ، دو جملوں کو حرف عطف "اور "نے ملایا ہے ۔ تیسری مثال میں حرف عطف "مگر" دو جملوں کے درمیان آیا ہے اور وہ جملوں کو ملاتا ہے "۔ (۸)

د فارسی او عربی د لفظونو تر مینځه حرف عطف په توګه “ و ” پکار راوستے شي لکه درس و تدریس ، علم و ادب، رنج و ملال، غم و غصه۔ ډاکټر محمد آفتاب احمد ثاقب په فارسی او عربی کښي د حرف عطف د آواز یا لفظ په بابله لیکي:

> “ فارسی میں " و " کی آواز " او " کی طرح نکلتی ہے خصوصاً مرکب الفاظ میں جیسے آب و دانہ، آب وگل، ذوق و شوق، رنگ و روپ، حلال و حرام وغیرہ اسی طرح عربی الفاظ بھی اردو میں "و" کے ساتھ مرکب بنالیے گئے ہیں جیسے صبر و شکر، قرآن و حدیث وغیرہ"۔(۹)

## مرکب عطفي:

دوه یا دوۀ نه زیاتو بامعنیٰ لفظونو مجموعه چې کله د حرف عطف د لاري ترکیب ومومي نو هغې ته مرکب عطفي وئیلے شي۔ رحمان بابا په خپل کلام کښې د فارسی ژبې مرکب عطفي نه هم کار اخستے دے او خپل کلام ئې پرې رنګین کړے دے۔ دارنګه شعرونه د رحمان بابا په دیوان کښې بلها دي خو د نموني په توګه یو څو هغه شعرونه چې مرکب عطفي پکښې موندې شي دلته وړاندے کوؤ۔

همګي واړه تګان دي تګي کاندِ
روشنده و خریدار د دې دنیا

عاقبت خو به یو موتے شي د خاورو
ګلعزار و ګل رخسار د دې دنیا

-----------------------------------

ګوش و هوش ئې هرګز نه وي
د مظلومو په ژړا

-----------------------------------

سود و زیان د دنیا واړۀ سهل کار دي
خداي دې نه کا څوک په سهل کار رسوا

-----------------------------------

زه رحمان له چا شکوه شکایت نه کړم
نشته بل دوست و دښمن ځما بې تا

-----------------------------------

دل و دین په یو نګاه د سړي یوسي
نه ئې ویره له چا کیږي نه حیا

ته چې ژغورې سر و مال په عاشقی کښې
عاشقي دا هسې چرې ده ویړیا

-----------------------------------

نه پوهيږم چې په کومه لاره دروممه
چپ و راست مې رقيبان دي هزارها

----------------------------------

ستا د مخ په ورق باندې خط و خال دي
د مصحف په صحيفو باندې اعراب
که دې زلفې په مخ پيچ و تاب شوې ښائي
وينټه څه طاقت لري د اور له تابَ

----------------------------------

دا ځما د يار جلوه ده چې ليده شي
لکه نمر په صومعه و سومنات
تر مالا په دلبرانو ډير مئين دي
چې خبرې کړي د کشف و کرامات
په ورځ پند و نصيحت وائي وَ بل ته
په شپه ناست وي د مغان په خرابات

----------------------------------

د عشق لاره د توکل په پښو غوخيږي
نه په پښو د رياضت و ديانت

----------------------------------

## مرکب اضافي

د دوؤ لفظونو تر مينځه ربط پيدا کولو ته اضافت وئيلے کيږي۔ په فارسی کښې کسرې سره يعني زير سره چې دوه لفظونه يو ځائې کړے شي نو دا مرکب ، مرکب اضافي ګڼلے شي۔ د مثال په توګه، ريګِ روان، کوهِ قاف۔ د رحمان بابا په ديوان کښې د مرکب اضافي مثالونه هم ګڼ دي خو دلته د نمونې د پاره په يو څو مثالونو اکتفا کوؤ۔

عمارت په سر د ريګِ روان کاندي

هر چې کاندي عمارت په دا دنیا

------------------------------------

ماه خورشید دې په ښائست پورې شرمیږي
ځکه مخ فنا کوي تر کوهِ قاف

------------------------------------

دا څه سیبِ زنخدان دي
چې هم سیم دي هم ثمر

------------------------------------

چې عنقا شو اهلِ دل په دا دنیا کښې
ترو به څه وائي وَ چا وَ ته احوال ښوک

------------------------------------

حق تعالیٰ که ئې نصیب کا
غه شیرین حوضِ کوثر

------------------------------------

چې آغاز مې کړه په مدح د خوبانو
ځکه ګنجِ بې بها دی دا حدیث

------------------------------------

د پورتني بحث نه دا خبره سپینیږي چې رحمان بابا د فارسی ژبې اثرات په لویه پیمانه قبول کړي دي خو د دې هر څه باوجود د هغه د شاعرۍ لویه خوبي دا ده چې ځانته ئې یو ځانګړې او خوندوره لاره راویستې ده چې د هر چا د ذوق سره سمون خوري او هر ښوک ترې خوند او مزه اوچتوي لکه رحمان بابا خپله هم وائي چې:

چې دا نور شاعران کاندي هغه نه کا
رحمان کړے نوے نوے اجتهاد دے

## حوالې


۱۔ عبدالحی حبیبي، د پښتو ادبیاتو تاریخ، لومړي او دوهم ټوک،، پیښور، دانش خپر ندویه ټولنه۔ ۲۰۰۵ء ص ۴۸۹

۲۔ خوشحال خان خټک ، ارمغان خوشحال، مقدمه سید رسول رسا، پیښور، یونیورسټي بک ایجنسي، دریم ځل، ۲۰۰۹، ص ۱۱۴

۳۔ زلمے هیوادمل ، د پښتو ادبیاتو تاریخ، لومړي ټوک، پیښور، دانش خپرندویه ټولنه، نومبر ۲۰۰۰، ص ۱۷۳

۴۔ خټک ،پردل خان ، عالمګیر رحمان مقاله مشموله قدردان د شاعرانو رحمان بابا، پیښوراکیډیمي پیښور یونیورسټي، ۱۹۹۸، ص ۲۰۵۔۲۰۶

۵۔ داؤر خان داؤد، پروفیسر، رحمان بابا ژوند او تعلیمات،پیښور، جدون پرنټنګ پریس، ستمبر ۱۹۹۷، ص ۱۱۰۔ ۱۱۱

۶۔ رسول رسا، سید، مقدمه مشموله د عبدالرحمان بابا دیوان، پیښور، یونیورسټي بک ایجنسي، مارچ ۲۰۰۹، ص 64

۷۔ آفتاب حمد ثاقب، ڈاکٹر، اردو قواعد و املا کے بنیادی اصول، راولپنڈی ، نقش گر، جولائی، ۲۰۱۳ء، ص ۱۶۱۔

۸۔ عبدالحق، مولوی اردو صرف و نحو، معتمد انجمن ترقی اردو (ہند)، س ن، ص ۹۱

۹۔ آفتاب احمد ثاقب، ڈاکٹر، اردو قواعد و املا کے بنیادی اصول، ص ۹۱